مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب شپږمه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۵مه | دویم کال | ۳۴۰مه گڼه
2 017550 139621

هېواد

۴ مخ

## مارشال

د دغه هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو کچه ۱۴۰ میلیون ډالرو او د سړي سرکلني عاید کچه یې ۲۹۰۰ ډالرو ته رسېږي.



## یوناما:

# تېر ۲۰۱۸ ز کال د افغان ملکیانو لپاره تر ټولو خونړی کال و



۳

## د افغان تجارتي مالونو لومړۍ جوپه پرون هند ته واستول شوه



د افغانستان د تجارتي مالونو لومړۍ جوپه پرون د ولسمشر اشرف غني په حضور کې، د چابهار بندر له لارې هند ته واستول شوه.

پرون شاوخوا ۷۵۰ ټنه افغان تجارتي مالونه له زرنج ښار څخه چابهار او له هغه ځایه هند ته واستول شول.

ولسمشر غني پرون په دې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې ویلي، افغانستان اوس د اسیا پر څلورلارې او د واردوونکي هېواد پر ځای، پر صادروونکي هېواد د بدلېدو په حال کې دی. غني زیاته کړې: «هرڅه چې له افغانستانه صادرېږي، د افغانستان سلگونه کلي او میلیونونه وگړي له نړۍ سره وصلوي. اقتصادي ژبه د وصل ژبه ده.»

چابهار د افغانستان لپاره نړیوالو اوبو ته د رسېدو تر ټولو نېږدې او ارزانه لار بلل کېږي. د چابهار بندر پروژه په ۲۰۱٦ ز کال کې د افغانستان، ایران او هند له لوري گټې اخیستنې ته وسپارل شوه، چې د افغانستان د ټرانزیټ لپاره مهمه پروژه ده.

### د قطر خبرې، هیلې او اندېښنې

۲ مخ

### د ډیورنډ کرښې د هوکړه لیک په اړه لنډ حقوقي او تاریخي بحث

۲ مخ

### د مدرسې او ښوونځي د واټن زیاتولو لومه!

۳ مخ

## راپورونه: ملابرادر له اسلام اباده په ځانگړې الوتکه کې قطر ته تللی دی

بي بي سي ته سرچینو ویلي چې د طالبانو مهم مشر او په قطر کې د دې ډلې د سیاسي دفتر نوی ټاکل شوی مشر ملا برادر قطر ته تللی دی. طالبانو تر دې دمه د دې خبرې پخلی نه دی کړی، خو رپوټونه وایي چې ملا برادر له اسلام اباده په یوه ځانگړې الوتکه کې دوحې ته تللی دی.

دا په داسې حال کې ده چې نن د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو د مذاکراتي ټیم او د امریکایي پلاوي ترمنځ د سولې د خبرو پنځم پړاو پیلېږي.

د طالبانوویاند ذبیح الله مجاهد ویلي، د دې خبرو اجنډا پر افغانستان د بهرنیانو د اشغال ختمول او د افغانستان له خاورې بل چا ته ضرر نه متوجه کول دي.

تراوسه مالومه نه ده چې پخپله ملا برادر به په دې خبرو کې گډون کوي او که نه، خو طالبانو تېره اونۍ ویلي وو، چې نوموړی د مذاکراتي ټیم غړی نه دی او که په خبرو کې گډون کوي، نو باید د امریکا له لوري هم د ده د کچې یو چارواکی په خبرو کې گډون وکړي.

د یادونې ده چې اوسمهال له امریکایي پلاوي سره د طالبانو د استازو د خبرو مشري د دې ډلې د مذاکراتي ټیم مشر شیر محمد عباس ستانکزی کوي.

## د ټاکنو د قانون تعدیل راتلونکي ولسمشریزې ټاکنې اغېزمنې کړې دي



۵ مخ

## شورای صلح: کار دربارۀ چگونگی دعوت طالبان به جرگه صلح جریان دارد




در آستانۀ برگزاری جرگۀ صلح، شورای عالی صلح می‌گوید که کار دربارۀ چگونگی دعوت طالبان به جرگه جریان دارد.

جرگۀ صلح، قرار است در آخر همین ماه برگزار شود و در آن در حدود چهارهزار تن از سراسر افغانستان شرکت کنند و در بارۀ چگونگی گفت‌وگوهای صلح رأی‌زنی کنند.

در همین حال، شورای عالی صلح، می‌گوید که احتمال دارد در نشست امروز در دوحه میان نماینده‌گان امریکا و طالبان، ایالات متحده درهماهنگی با حکومت افغانستان به طالبان پیشنهاد کند که نماینده‌گان این گروه در این جرگه شرکت کنند.

سید احسان طاهری، سخن‌گوی شورای عالی صلح، می‌گوید که اعضای این جرگه در تمامی ولایت‌ها به گونۀ نیمه انتخابی، برگزیده خواهند شد و نماینده‌گان تمامی طبقات و لایه‌های جامعه در این جرگه شرکت خواهند کرد.

به گفتۀ طاهری، چند کمیته برای مدیریت این جرگه به کار آغاز کرده‌اند و پس از ایجاد یک کمیسیون عالی، تمامی کار شیوه‌ها و اجندای این جرگه روشن خواهد شد. وی افزود: «روی دعوت طالبان هم کار جریان دارد که امیدوار استم که به‌زودی بتوانیم، روی چگونگی آن مکث شود پس از این که کمیسیون ایجاد می‌شود، بتوانیم تحریک طالبان را هم در این لویه جرگه در کابل داشته باشیم».

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### د قطر خبرې، هیلې او اندېښنې

ټاکل شوې چې نن په قطر کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ خبرې بیا پیل شي. په دغو خبرو کې به امریکایي پلاوی د زلمي خلیلزاد او طالب پلاوی به د عباس ستانکزي په مشرۍ برخه اخلي. له دې وړاندې د امریکا او طالبانو دوو تخنیکي کمېټو کار پیل کړی و. د دغو کمېټو دنده دا وه چې یوه یې د بهرنیو ځواکونو د وتلو د څرنګوالي او مهالوېش یوه طرحه جوړه کړه او دویمې یې پر دې کار کاوه چې څنګه د افغانستان خاوره بیا د بهرنیو هېوادونو پر ضد ونه کارول شي. دواړې کمېټې به خپلې طرحې نننۍ غونډې ته وړاندې کوي او دواړه لوري به پرې بحث کوي.

دا ځل خبرې تر پخوانیو خبرو لا زیاتې مهمې دي، ځکه چې پر مهو او بنسټیزو مسایلو پکې بحث کېږي، چې ښایي پر ځینو مسایلو توافق هم وشي. له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل د وسله والو طالبانو اصلي غوښتنه ده، چې تخنیکي کمېټو پرې کار کړی او ډېر احتمال شته چې په دې اړه طالبان او امریکا یوې وروستۍ هوکړې ته ورسېږي. دغه راز امریکا هم له دې وېره لري چې افغانستان یې یو ځل بیا پر ضد ونه کارول شي، نو په دغو خبرو کې به هغه طرحه هم وړاندې شي چې د افغانستان خاوره به د امریکا او د امریکا د ملګرو پر ضد نه کارول کېږي. په دې چاره کې هم د هوکړې احتمال زیات دی او هم دا هغه څه دي چې ښایي په رسمي ډول اعلان شي.

اوس چې ښکاري د دواړو لوري اساسي غوښتنې منل کېږي او د اختلاف اساسي ټکي له منځه ځي، نو وروسته داسې لوی مسایل نه پاتې کېږي چې په خبرو کې د خنډ په توګه پاتې شي. که څه هم هیله زیاته ده او باور دی چې دا ځل به د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر څرنګوالي هوکړه کېږي، خو لا هم د امریکا پر اراده او نیت شکونه شته. که امریکا رښتیا غواړي چې افغانستان ته سوله او ثبات را وګرځي، نو دا چاره به مخکې ولاړه شي، خو که امریکا کوم بل پلان لري، نو بیا وېره ده چې دا ځل خبرې به هم هغسې پایله ونه لري چې تمه یې کېږي. اوس د امریکا پر نیت او اراده شکونه شته، ځکه چې له امریکایي لوري تل هڅه شوې چې اساسي موضوعات څنګ ته پرېښودل شي او پر فرعي مسایلو بحث وشي. دوی ډېر نه حاضرېږي چې د ځواکونو پر وتلو بحث وکړي، بلکې بیا بیا پر ځینو نورو مسایلو ټینګار کوي. امریکا وایي چې طالبان دې اوربند اعلان کړي، له حکومت سره دې خبرې وکړي او ځینې نور کارونه دې وکړي. طالبان باید دا کار وکړي، خو امریکا تر هغه وړاندې باید په روښانه ټکو ووایي چې له افغانستان څخه وځي او په دې اړه باید یوه رسمي هوکړه هم لاسلیک کړي.

د افغانستان خلک د قطر دغو خبرو ته په تمه ده. دا خبرې به له یوه اړخه د امریکا او طالبانو ترمنځ اساسي مسایل حل کړي او له بله اړخه به د دې زمینه برابره کړي چې افغانان هم خپلمنځي تفاهم ته ورسېږي او پر هغو مسایلو خبرې او موافقه وکړي چې د افغانستان کورنی او بهرنی راتلونکی دی.

# د ډیورنډ کرښې د هوکړه لیک په اړه لنډ حقوقي او تاریخي بحث

لیکوال: سید حبیب هاشمي / دویمه برخه:

**باوري بنسټیز اصول :**

اول خو دا ده چې دا یوه بین المللي معاهده نه، بلکې یوه دوجانبه تفاهمنامه ده، چې له یوې بین المللي معاهد سره ډېر زیات توپیر لري او اکثره خلک دا توپیر نه شي کولی یا هم پرې خبر نه دي.

یو تړون د نورو حقوقي تولیداتو په څېر، هغه وخت دوامداره حقوقي اغېزمنتوب درلودلای شي چې لاندې اصول پکښط مراعات شوي وي.

۱- د تړون لاسلیک کوونکی باید حقوقي اهلیت ولري یعنې د نړیوالو حقوقو لوبغاړی لکه دولتونه یا نړیوال موسسات وي.

۲- د تړون موضوع باید مشروع وي. د بېلګې په ډول، د ذروي وسلو صادرات، د یو تړون موضوع نه شي کېدای .

۳- متعاقدین باید ازاده اراده ولري، ازاده اراده د متعاقدینو بې تردیده رضایت څرګندوي.

همدا اوس د مخکنیو توضیحاتو په رڼا کې، د ډیورنډ موافقه لیک حقوقي اعتبار، تر څېړنې لاندې نیسو:

۱- د تړون د لاسلیک کوونکي اهلیت:

د ویانا د ۱۹۹٦ ز کال د شپږمې مادې د کنوانسیون له مخې په نړیوالو حقوقو کې یوازې یو خپلواک دولت او یوه نړیواله موسسه د نړیوالو حقونو د متصدي یا فاعل په توګه نړیوال تړون د لاسلیک کولو اهلیت لري.

نړیوال حقوقپوهان هم په دې نظر دي چې کله یو هېواد تحت الحمایه (پروتکتورات) وي، یوازې حامي دولت (پروتکتور) د نړیوال تړون د انعقاد حق او صلاحیت لري. په دې اړه ډېر تاریخي مثالونه شته، خو موږ د یو مثال په ویلو اکتفا کوو: کمبودیا په ۱۹۴۱ ز کال کې د فرانسې تحت الحمایه و. په همدغه کال کې فرانسې د حامي (پروتکتور) دولت په توګه، له تایلند سره د کمبودیا د پلو د تعیین په مقصد یو تړون لاسلیک کړ .

د امیر عبدالرحمن په وخت کې افغانستان تحت الحمایه هېواد و. د هېواد بهرنی امنیت او د باندني سیاست اداره، د انګرېزانو په لاس کې وو، هغه وخت یوازې انګرېزانو د نړیوال تړون د انعقاد اهلیت او صلاحیت درلود، افغاني تحت الحمایه دولت د نړیوال تړون له انعقاد څخه بې برخې و .

دغه واقعیت چې انګرېزانو او تزاري روس په ۱۸۷۳-۱۸۷۷ ز کال او ۱۸۹۵ ز کال کې د افغانستان شمالي پلو په تعیین کې رول درلود، دا ثابتوي چې هېواد په خپل بهرني سیاست کې د انګرېزانو تر استعماري حکم لاندې او یو تحت الحمایه دولت و. بناً یې د یو نړیوال تړون دلاسلیک کېدو حق نه درلود .

د انګرېزانو له خوا کښل شوې نقشه کې له چترال او له غل پاس (غل درې) نه تر پېښوره او له پېښور نه تر تورغر پورې د سرحد ښودلو یوه لیکه جوړه وه. په دې کې د واخان، کافرستان(نورستان)، اسمار، مومند دره، لالپوره او د وزیرستان یوه برخه د افغانستان په برخه ورسېدل او له چمن سټېشن نه تر چاغي، د وزیرو پاتې ملک، بلند خیل، کورمه، اپریدي، باجوړ، سوات، دیر، چیلاس او چترال هند طرف ته ورسېدل.

د نقشې له کښلو وروسته یوه توافقنامه د (میمورنډم آف انډرسټېنډنګ) په نوم ولیکل شوه چې اووه مادې یې درلودې.

۲- د تړون مشروعیت: د ویانا ۱۹۹٦ ز کال کانوانسیون په ۵۳مه ماده کې راغلي: هغه تړون باطل شمېرل کېږي چې د انعقاد په وخت کې د نړیوال حقوقو له عمومي موازینو سره په تضاد کې وي.

دغه موازین په مجموعي توګه د نړیوالې ټولنې له خواه منل شوي او تر هغه وخته اعتبار لري چې نوي حقوقي اصول د هغو ځای ونیسي.

د ډیورنډ د موافقه لیک موضوع د دواړو پلوو یو تثبیت و. نو بناً په دې اړه باندې د تړون مشروعیت تر پوښتنې لاندې راځي .

۳- د متعاقدینو ازاده اراده: هغه لاملونه چې د متعاقدینو پر ازاده اراده او د یو تړون پر بطلان اغېز لري، د دې سبب ګرځي چې له کورنیو حقوقو څخه بهرنیو حقوقو ته لار پیداکړي. لکه، خشونت.

نوموړي سببونه هر یو کولای شي چې د متعاقدینو بشپړ رضانیت او خپلواکه اراده تر پوښتنې لاندې راولي او نهایتاً د تړون د بطلان لامل وګرځي.

د بطلان له درې ګونو سببونه څخه موږ یوازې پر غبن او خشونت باندې چې زیاتره د ډیورنډ د کرښې په اړه مطرح کېږي، رڼا اچوو:

د ښکلېو اړخونو په اړه د انګرېزانو او روسانو له خوا په مختلفو وختونو کې ځینې هیئتونه ټاکل شوي وو. لومړی هیئت د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په کچه (لارد کرینویل او پرنس ګورچکوف) جوړ شوی و. یو بل پلاوی د انګلیسي او روسي استازي د (چارلس پت او کاپیتان کامروف) په نومونو جوړ شوی و.

الف- غبن په مختلفو ډولونو باندې مطرح کېدای شي، چې بډې یا رشوت له هغې جملې څخه ګڼل کېږي. د بډو ورکولو موخه د بډو ورکوونکي په ګټه د هغو خبرو اترو اړوند دي، چې د تړون لاسلیک په بهیر کې کېږي .

د ویانا د ۱۹۹٦ ز کال کنوانسیون په خپله ۵۰مه ماده کې بډې د متعاقدینو د ازادې ارادې د سلبولو لامل بللی، چې په هکله یې د تړون اصولیت تر پوښتنې لاندی راوستی شي .

د ډیورنډ په موافقه لیک کې د مسټر ډیورنډ له خوا افغاني لوري ته په بربنډه توګه د مستمرۍ تر نامه لاندې د بډو ورکولو اشاره شوې ده.

د موافقه لیک اوومه ماده کې لیکل شوي: د هند دولت د هند په وړاندې د امیر حسن نیت ته هرکلی وایي او نوموړي ته اجازه ورکوي چې د خپلې اړتیا وړ وسلې د هند خاورې له لارې تر لاسه کړي. اوومه ماده زیاتوي: سربېره پر دې د دې په خاطر چې امیر د دې معاملې پر سر باندې خپله دوستانه دریځ څرګند کړ، د هند دولت د امیر مستمرې ته د ۱۲لک روپیۍ کمک ۱۸ لکو ته زیاتوي.

ب ـ اجبار او تشدد: که د یو دولت د استازي په وړاندې وي یا په خپله د دولت پر سر باندې په قطعي ډول سره د یو تړون د اصولیت رېښې له بېخه باطلوي.

د ویانا کنوانسیون ۵۱مه ماده کې راغلي: یو تړون چې د یو دولت پر استازي باندې د ګواښ او فشار په وسیله عقد شي، هېڅ حقوقي اغېز نه شي درلودلی او بالکل باطل دی.

په نړیوالو حقوقو کې له پخوا وختونو راهیسې د یو دولت پر سر باندې نظامي، سیاسي یا اقتصادي فشار، د یو تړون د انعقاد په مقصد، د تړون د بطلان د یو لامل په توګه پېژندل شوی دی.

د ویانا کنوانسیون ۵۲مه ماده کې راغلي: هغه تړون چې د ګواښ یا زور د استعمال پر بنسټ باندې تصویب شي او د هغو نړیوالو حقوقو له ضوابطو سره چې د ملګرو ملتونو په منشور کې منعکس شوي دي، مخالفت ولري، باطل اعلانېږي.

د تاریخ په اوږدو کې هغه تړونونه چې د زر او زور له لارې تصویب شوي، له لږ ځنډ وروسته باطل اعلان شوي دي.

موږ دلته څو مواردو ته اشاره کوو :

- په ۱۹۰۵ ز کال کې جاپان (سیول) اشغال او کوریایي استازی دبته اړ کړ، چې یو تحت الحمایګي تړون ته غاړه کېږدي. تړون سره له دې چې ۴۰ کاله تر اجرا لاندې و، په ۱۹۴۵ ز کال کې د جاپان له ماتې څخه وروسته باطل اعلان شو.

د کابل د معاهدې (۱۹۲۱) د ۱۴مې مادې له مخط چې د مرحوم امیر شهید په وخت کې چې کومې پولې له برتانوي هند سره منل شوې وې، باید ومنل شي. ولې مهمه خبره دا ده چې دا معاهده د دریو کلونو لپاره امضاء شوه او وروسته له افغان اړخه هغه معاهده تمدید نه شوه، نو ویلی شو چې اوس هغه معاهده سره له ټولو موادو په اتومات شکل ملغي ګڼل کېږي او اعتبار نه لري.

په ۱۹۳۹ ز کال د مارچ په ۱۵مه د چکسلواکیا ولسمشر (هاشا) او د هغه د بهرنیو چارو وزیر هتلري تر فشار لاندې المان دبته اړ شو، چې د یو تحت الحمایه تړون په چوکات کې، (بوهم) او (موراوی) المان ته وسپاري .

د المان له ماتې وروسته، تحت الحمایګي تړون ملغا او نوموړي ایالتونه بېرته چکسلواکیا ته وسپارل شول .

د نورنبرګ نظامي محکمه په ۱۹۹٦ ز کال د اکتوبر په لومړۍ، د یو حکم په بنسټ د نوموړي تړون له بطلان سره خپله موافقه څرګنده کړه .

- په ۱۹۴۱ ز کال کې کمبودیا د فرانسې تحت الحمایه هېواد و، پر فرانسه باندې د جاپان له خوا نظامي فشار، نوموړی هېواد دبته اړ کړ، چې له تایلند سره د ښکلېو اړخونو د تثبیت په اړه یو تړون لاسلیک کړی. دغه تړون د کمبودیا ځمکنۍ بشپړتیا سخته تاواني کړې و، د جاپان له ماتې وروسته فرانسې اعلان وکړ، چې تړون د نظامي ګواښ تر فشار لاندې تړل شوی و او له تحت الحمایګي نظام سره یو ځای ملغا اعلانېږي.

امیر عبدالرحمن د ډیورنډ د موافقه لیک د لاسلیک کولو په وخت کې، د سختو نظامي یرغلیزو ګواښونو سره مخ و. د بریټانوي هند حکومت په بېړه د اورګاډې کرښه له چمن څخه کندهار او له پېښور څخه خیبر خوا ته وغځوله او په کوټه کې یې په عسکري مانورنو لاس پورې کړ.

که موږ د یو تړون د بطلان نورو فکټورونو ته پام هم ونه کړو، نو پر امیر باندې د افغانستان د نظامي اشغال فشار کفایت کوي، چې د ډیورنډ د موافقه لیک مشروعیت تر پوښتنې لاندې راوړي او د بطلان خط ورباندې کش کړي.

**دوام لري...**

## ولسمشر غني: افغانستان له واردوونکي څخه په صادروونکي هېواد د بدلېدو په حال کې دی

ولسمشر غني ویلي، افغانستان اوسمهال د اسیا پر څلورلارې بدل شوی او د صادراتو او وارداتو له پلوه په وچه کې بند هېواد نه دی.

نوموړي چې د یکشنبې په ورځ یې په نیمروز کې، چابهار بندر ته د افغان سوداګریزو توکو د لومړني کاروان د لېږد په غونډه کې خبرې کولې، د افغانستان صادرات په کلني ډول د یو میلیارد ډالرو په اندازه یاد کړي او په ټینګار سره یې ویلي، چې د صادراتو کلنۍ کچه به دوو میلیاردو ډالرو ته ورسېږي.

غني ویلي: «افغانستان له یو واردوونکي نه په صادروونکي هېواد د بدلېدو په حال کې دی. دا د کار پیل دی، زموږ ژوند دوامدار او تل پاتې دی، هر هغه څه چې له افغانستانه صادرېږي، سلګونه کلي او میلیونونه افغانان له نړۍ سره نښلوي، د وصل ژبه اقتصادي ژبه ده.»

دا په داسې حال کې چې تېره ورځ په لومړي ځل د افغانستان ۵۷۰ ټنه صادراتي مالونه د چابهار بندر له لارې د هند ممبۍ ښار ته واستول شول.




د چابهار بندر پروژه په ۲۰۱٦ زېږدیز کال کې د افغانستان، ایران او هند له لوري ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه، چې د افغانستان د ټرانزیټ لپاره نړیوالو اوبو ته د رسېدو تر ټولو نږدې او ارزانه لار بلل کېږي.

تېر کال هند د دغه بندر له لارې افغانستان ته غنم استولي وو، خو دا لومړی ځل دی چې افغان توکي د دغه بندر له لارې بهر ته استول کېږي.

د ټولګټو وزیر یما یاري چې په همدې غونډه کې یې خبرې کولې ویلي، هند ته د افغان مالونو په دې لومړنۍ بسته کې بېلابېل توکي شامل دي چې په ۲۳ کانټینرونو کې استول کېږي.

یاري دغه راز ویلي چې په چابهار بندر کې اوسمهال ۱۵۰ افغان شرکتونو د ۵۰ میلیونو ډالرو په اندازه پانګونه کړې ده.

د نوموړي په خبره، چابهار بندر افغان سوداګرو ته د بندرعباس او کراچۍ بندر په پرتله، بهر ته د مالونو استولو لپاره ارزانه لاره بلل کېږي.

# د مدرسې او ښوونځي د واټن زياتولو لومه!

لیکنه: ذاکر جلالي

د درېيمې نړۍ په نږدې ټولو ملتونو کې د ماډرنېزم او ډربېډنشلېزم يا د نويتوب او سنتګرايۍ د مظاهرو ترمنځ يو تقابل روان دی. دا يو لوی او پراخ بحث دی چې د کومې کړنلارې په خپلولو سره هم له نړيوالو پرمختګونو سره مله واوسو او ترڅنګ يې خپل ديني ارزښتونه او ملي او کلتوري دودونه او هويت هېر نه کړو. هغه ملتونه چې خپل ټول ديني او ملي ارزښتونه د نورو په تقليد کې هېروي، په نهايت کې له بې‌هويتۍ سره مخ کېږي. هغوی چې برعکس بيا د خپلو کلتوري ارزښتونو په کلا کې ځانونه ايساروي، له نورې نړۍ سره د اګاهانه تعامل دروازې تړي، د پرمختګ له کاروانه شاته پاتېږي. منځنۍ تګلاره چې په نړيواله کچه منلې هم ده، دا ده چې له نړيوالو پرمختګونو سره خپل ديني او ملي تشخص او هويت هم وساتو. د دې ګفتمان په منځ منځ کې د مدرسې او ښوونځي يا مدرسې او پوهنتون واټن هم مطرح کېږي.

دا بحث يوازې تر افغانستانه نه شو راټولولای. که وواېو چې زموږ د شاوخوا سيمې په پرتله دا ربړه افغانستان کې لږه زياته جدي ده، ښايي همداسې وي. دا لوی بحث دی چې واضحه ستراتيژي او اوږدمهاله کار ته اړتيا لري، خو نن ځکه دا بحث رايادېږي چې تېره اونۍ په لوګر، وردګ او کاپيسا کې د افغان اردو په ملتيا، بهرنيو ځواکونو زموږ څو مدرسې او جوماتونه راشهيدان کړل. له دې جملې د کاپيسا په تګاب کې د طريقت د مشهور مرشد مياګل جان آغا رحمه الله مدرسه (حميديه مدرسه) هم وه. دې مدرسې د مذهبي ارزښت ترڅنګ، سل کلن تاريخي قدامت درلود. زرګونه طالبان او مريدان يې درلودل. ديني، روحاني او تاريخي حيثيت يې درلود. دې کورنۍ د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه کې مهم کردار درلود. له همدې امله غازي امان الله خان ورته د «لمر علی» نښان هم ورکړی و.

هغه مدرسه چې په خپل سل کلن ديني او روحاني مزل کې يې ډېر نظامونه او په دا وروستيو کې د ډېرو ايډيالوژيکو لوريو حکومتونه تجربه کړل او له دومره کړکېچنو شرايطو روغه راووته او نن د ډيموکراسۍ او د بشر د حقونو علم‌بردارانو ونړوله!

د دې مدرسې مظلومانه شهادت ښيي چې اوسنی د ډاکټر غني افغان حکومت ته خپل ملي او ديني اقدام څومره ارزښت لري. د دوی له دغه وړ کړنو يې د واک د ولسي ريښې درک هم لګولای شو. له دې پورته لوی بحث دا دی چې ارګ کې ناست د بيروت او کلمبيا او د فل برايټ فارغين چې په کومې بې‌رحمۍ د مدارسو او مساجدو د شهادت ننداره کوي، دا يو ځل بيا د مسجد او مکتب يا مدرسې او پوهنتون د تقابل بحث راپورته کوي. دا ښيي چې دوی نه يوازې د ټولنيز چاود د راټولولو غم نه کوي، بلکې په لوی لاس د مکتب او مدرسې واټن زياتوي. که خدای مه کړه، دا کار په طالب کې د غچ روحيه راوپاروي او له يوې مخې تر خپلې ولکې لاندې سيمو کې له مکاتبو سره هغه چلن وکړي، چې ارګ يې له مدارسو سره کوي، د دغه وړ احتمالي ناورين بيه به څوک پرې کوي؟! د دې پړه به د چا په غاړه وي؟!

کله چې طالب تر خپلې ولکې لاندې سيمو کې د ښوونځي ساتنه او پالنه کوي، دا هيلې راټوکوي چې د مکتب او مدرسې د ټکر بحث يو وېره ده، ځکه د مدرسې طالب ټوپک په اوږه د ښوونځي ساتنه خپله دنده بولي؛ خو چې د مدارسو په تړاو د ارګ مېشتو بې‌توپيرو وګورو، دا وېره جدي شي چې خدای مه کړه چې د غچ څپه يې راوالوځوله، بيا به هغه حالت دې بې‌چاره ولس ته څه خپسې وروښيي!

دا يوازې د تګاب مدرسه نه وه چې تېره اونۍ شهيده شوه. د دې مدرسې ترڅنګ، په وردګو او لوګر کې هم مدرسې ونړول شوې او هم ورسره عام افغانان شهيدان شول. د وردګو جلګې ولسوالۍ کې ګډو ځواکونو تر شلو زيات عام افغانان شهيدان کړل. په دغو بمباردونو کې داسې کورنۍ هم شته چې ټول غړي يې شهيدان شوي دي.

د عامو افغانانو مظلومانه شهادتونو له هغې وروسته زور واخيست، چې په کابل کې اشرف غني او عبدالله عبدالله ګډ حکومت جوړ کړ او په ۲۰۱۷ ز کال کې ډونالډ ټرمپ په واشنګټن کې واک ته ورسېد. د اشرف غني حکومت امريکايانو ته يو ځل بيا د شپنيو عملياتو، بې‌حده بمباريو، زندانونو ساتلو او د افغانانو د وژنو مخه پرانيسته او د عامو افغانانو ترڅنګ يې ان د ملي اردو په بمبارد هم خوله چوله نه کړه. ټرمپ د خپلې واکمنۍ په لومړي کال کې خپلو پوځيانو ته پراخ واکونه ورکړل، چې که وکولای شي د جګړې له لارې طالبان مات کړي. پخواني امريکايي قوماندان جان نيکولسن ژمنه کړې وه چې تر يوه کاله به نوي سلنه د طالبانو تر ولکې لاندې سيمې تر خپلې ولکې لاندې راولي. د جګړې شدت څه ګټه ونه کړه. ټرمپ پر خپلو جنرالانو او پوځي سلاکارانو باور وبايلود، د بديلې لارې په لټه کې شو، دې ته يې ترجيح ورکړه چې خپل ځواکونه د تفاهم له لارې له افغانستانه راوباسي؛ خو «زموږ» د کابل واکمن لا هم پر پخواني خره سپاره دي او د جګړې بګتۍ غږوي!

خو د ټولو سترګې ارګ ته وراوښتې، چې تاسې خو لږ تر لږه له افغان مور و پلاره زېږېدلي ياست، تاسې خو بايد د وضعيت کره جاج اخيستی وای او په دومره بې‌رحمۍ مو د خپلو خلکو په وژلو سترګې نه وای پټې کړې. د افغانانو د مظلوميت داستان اوږد دی. هغه څه چې په دې وروستيو کې تکرار پېښېږي، زموږ د ديني-علمي بنسټونو نړول او ويجاړول دي چې پايلې يې ډېرې وېرونکې برېښي.

تېر کال کندوز کې پر مدرسې له بمبارد راهيسې دا پېښې ډېرې تکرار شوې، چې وروستۍ هغه يې د تګاب او وردګو مدرسې دي. اصلي بحث دا دی چې په افغانستان کې د مدارسو ولسي ريښې او تاريخي قدامت له هېچا پټ نه دی؛ خو بيا هم په بشپړې بې‌غورۍ سره بمباردېږي او علما يې شهيدانېږي. د داسې پېښو تر شا د مدرسو او پوهنتون ترمنځ د واټن پيدا کولو او ان دښمنۍ جوړولو پټې لومې ښکاري. د دې ترڅنګ اوس ډېر پوهنتون لوستي ځوانان لرو چې د مدرسې تقدس او عظمت ته درناوی لري او پر اهميت يې اګاه دي او له بلې خوا طالب خپلو سيمو کې د مکاتبو ساتنه کوي.

# يوناما: تېر ۲۰۱۸ ز کال د افغان ملکيانو لپاره تر ټولو خونړی کال و



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سياسي استازولۍ (يوناما) په خپل تازه راپور کې ويلي، په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې د افغان ملکيانو مرګ ژوبله تر بل هر وخت ډېره شوې وه. راپور وايي، تېر کال د وسله والو طالبانو، بهرنيو ځواکونو او افغان ځواکونو په بريدونو او بمباريو کې، ۳۸۰۴ ولسي وګړي وژل شوي او ۷۱۸۹ نور ټپيان شوي دي. يوناما په پرونۍ خپاره شوي راپور کې ويلي، چې تېر کال په افغان جګړه کې ۹۲۷ ماشومان وژل شوي.

له يوناما سره د ملګرو ملتونو د بشري حقونو دفتر په ګډه دغه راپور چمتو کړی چې وايي، په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې د ولسي وګړو مرګ ژوبله په ټوله کې پنځه سلنه ډېره شوې او دا د ورم ۲۰۱۷ ز کال په پرتله د ملکي وګړو په مړينه کې ۱۱ سلنه زياتوالی ښيي.

يوناما په خپل راپور کې وايي، د ٦۳ سلنې ولسي مرګ ژوبلې مسوول د حکومت مخالفې وسله والې ډلې دي. سرچينه کاږي چې وسله وال طالبان د ۳۷ سلنه او داعش ډله د ۲۰ سلنې مرګ ژوبلې مسووله ده. په راپور کې حکومت پلوي ځواکونه د ۲۴ سلنې او افغان امنيتي ځواکونه د ۱۴ سلنې مرګ ژوبلې مسوول ګڼل شوي، خو نړيوال ځواکونه د ولسي مرګ ژوبلې د شپږ سلنې مسوول بلل شوي. د سرچينې په خبره، تر ډېره دغو ولسي وګړو ته په ځانمرګو، هوايي بريدونو او د حکومت پلوو ځواکونو د پلټنې په عملياتو کې ياده مرګ ژوبله اوښتې.

يوناما وايي، تېر کال وسله والو ډلو ٦۵ خونړي ځانمرګي بريدونه کړي، چې ۲۱ يې د طالبانو لخوا شوي، خو طالبانو د ۱۵ بريدونو مسووليت منلی، چې د ٦۴۲ ولسي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي. راپور زياتوي، داعش تېر کال ۳٦ ځانمرګي او پېچلي بريدونه کړي، چې ۱۸۹۲ ولسي وګړو ته مرګ ژوبله پکې اوښتې، خو دغې ډلې يوازې د ۳۳ ځانمرګو بريدونو مسووليت منلی دی.

د راپور پر بنسټ، په ۲۰۱۸ کال کې د افغان ځواکونو په بريدونو او عملياتو کې ۱۱۸۵ ولسي وګړي وژل شوي او ۱۴۲۷ نور ټپيان دي. همدا راز په ۲۰۱۸ کې هوايي بريدونو دومره ولسي وګړي وژلي لکه ۲۰۱۴، ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ کلونو کې چې وژل شوي وو. بهرني ځواکونه په تېر کال کې د ٦۷۴ ولسي وګړو مرګ ژوبلې مسوول ګڼل شوي، چې ۹۴ سلنه تلفات يې په هوايي بريدونو کې اړولي دي.

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي تاداميچي ياماماتو يو ځل بيا د جګړې پر ښکېلو خواوو د سولې او مذاکراتو غږ کړی دی. ده ويلي، ټول اړخونه دې د ملکي وګړو د ژوند خونديتوب ته پام وکړي او هڅه دې وکړي چې روانه خونړۍ جګړه د خبرو او مذاکراتو پر مټ پای ته ورسوي.

افغان حکومت د يوناما د دغه راپور په اړه تر دې دمه غبرګون نه دی ښودلی، خو وسله والو طالبانو بيا ويلي چې د يوناما معلومات ناسم دي. د دوی په خبره، يوناما د بشري حقونو له مسايلو سره داسې چلند کوي چې بايد د امريکا په ګټه تمام شي. دوی وايي، دغه راپور مغرضانه دی.

يوناما داسې مهال ياد راپور خپور کړی، چې په دې وروستيو کې د بهرنيو ځواکونو، افغان ځواکونو او وسله والو طالبانو ترمنځ په جګړو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله ډېره شوې ده. همدا تېره شنبې شپه هم د ميدان وردګو ولايت په جلګه کې د هوايي ځواکونو له لورې د ملکي وګړو پر کورونو هوايي بريدونه شوي وو، چې درنه مرګ ژوبله يې اړولې وه. سره له دې چې حکومت پر دې پېښه غبرګون نه دی ښودلی، خو مدني ټولنو، سياسي شنونکو او عامو وګړو پر حکومت غږ کړی، چې د ورته غير مسوولانه بريدونو مخه ونيسي.

# د شمالي کوريا مشر له خپل امريکايي سيال سره د کتنې لپاره ويتنام ته روان شوی دی

شمالي کوريا تاييد کړې چې د دغه هېواد ولسمشر کېم جونګ اون له خپل امريکايي سيال ډونالډ ټرمپ سره د بلې کتنې لپاره ويتنام ته په ريل ګاډي کې خپل سفر پيل کړی دی.

د شمالي کوريا دولتي خبري اژانس (KCNA) ويتنام ته د دغه هېواد د ولسمشر د سفر په تاييد ويلي، چې له کېم جونګ اون سره د يادې کوريا د مرکچي پلاوي مشر کېم يونګ کول او د کيم جونګ اون خور، کيم يو جونګ هم په دغه سفر کې ملتيا کوي.

دا په داسې حال کې چې د جنوبي کوريا يانهوپ خبري اژانس راپور ورکړی، چې د کېم د سپرلۍ ريل ګاډی ورمه ورځ ناوخته د چين سرحدي ښار داندونګ ته رسېدلی دی.

ويل کېږي چې د کېم جونګ اون ريل ګاډی به د چين په خاوره کې زرګونه کيلومتره لاره، په څه باندې دوو ورځو کې ووهي څو ويتنام ته ورسېږي، خو د نوموړي د دغه سفر جزيات په ټوله کې پټ ساتل شوي دي.

بلخوا ويتنام هم اعلان کړی چې دغه هېواد ته د کېم له رسېدو سره سم به هغه لارې چې دی پرې سفر کوي، د ټرافيکو پرمخ وتړي.

په پام کې ده چې د امريکا او شمالي کوريا مشران د راتلونکې چهارشنبې او پنجشنبې په ورځو، په هانوی کې سره وګوري.

د يادونې ده چې د شمالي کوريا او متحده ايالتونو د مشرانو ترمنځ، دغه دويمه ليدنه ده چې زيات جزيات يې نه دي په ډاګه شوي، خو چارواکو ويلي چې په دې کتنه کې به د هغو مسايلو په اړه چې په مخکينۍ غونډه کې يې ژمنې شوې وې، مشخصې پرېکړې وشي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ټرمپ او کېم د تېر کال په جون مياشت کې هم په سنګاپور کې سره کتلي وو.

په ياده کتنه کې د شمالي کوريا مشر کېم جونګ اون ژمنه کړې وه چې د کوريا له ټاپووزمې د اټومي وسلو د ټولولو لپاره کار کوي او ټرمپ هم له دې کتنې وروسته اعلان کړی و، چې د شمالي کوريا له خوا اټومي ګواښ نور دفعه شوی دی، خو پيونګ يانګ تر اوسه هغه څه چې واشنګټن يې ورڅخه د مشخصو اقداماتو غوښتنه کوله، څه نه دي ترسره کړي.



## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### پنځم څپرکی
### څنګه نوی فکر وکړو؟




نو په دې کار کې مې دا تجربه وکړه: زما ذهن چې د کار په اړه څومره وړتیا لري، هومره کار هم کولای شم.)

وړتیا ذهني اخذ یا برداشت دی. په کاروباري نړۍ کې هر ورځ داسې پېښې کېږي. رئیس خپل کارکوونکي ورغواړي او ورته وایي چې یو ټاکلی کار باید وشي. بیا ورته وایي: (زه پوهېږم چې تاته خپل کارونه هم پراته دي، خو دا کار هم ورسره کولای شې؟) زیاتره کارکوونکي ورته وایي: (زه ډېره ښښنه غواړم، خپل کارونه مې پراته دي، کاشکي مې دا کار منلی شوی، خو که رښتیا درته ووایم سخت ګیر یم.)

په داسې وخت کې رئیسان له دې موضوع د کارکوونکي په زیان کار نه اخلي، ځکه هغوی پوهېږي چې دا یوه اضافي وظیفه وه. خو بیا هم له رئیس سره دا غم وي چې کار باید وشي، بیا ګرځي چې داسې کارکوونکی پیدا کړي چې کارونه یې د نورو هومره وي، خو ښایي چې دا ډېر کار هم وکړي او دا هماغه کاروونکی وي چې ځان به ډېر لوړ ځای ته رسوي.

په کار، کور او ټولنې کې د بري کونجي دا ده چې: (تر پخوا ښه کار وکړه!)، (خپله ګټورتیا ښه کړه!)، (تر پخوا ډېر کار وکړه او خپله ګټورتیا زیاته کړه!)

که داسې فکر کوئ چې ښه او ډېر کار کولای شئ، نو په دې دوو خبرو عمل وکړئ:

۱. د کار وړاندیزونه په مینه ومنئ. څوک چې تاسې ته کار سپاري، اصلاً په تاسې حساب کوي. په کار کې لوی مسئولیت اخیستل تاسې نورو ته ځرګندوي او خلکو ته مو ارزښت روښانوي. که ګاونډیان مو درته وایي چې په یوه ټولنیزه موضوع کې زموږ استازی شه، ورسره ویې منئ. دا مو ټولنیز باور زیاتوي.

۲. بیا په دې فکر وکړئ چې ډېر کار به څنګه کوم؟ نوي ځوابونه به ومومئ. ځینې ځوابونه ښایي ښه پلانګذاري، لا ډېر نظم، د ورځنیو فعالیتونو لنډول یا د اضافي چارو پرېښودل وي، خو بیا هم درته وایم چې د (ډېر کار) لارې چارې درته پیدا کېږي.

ما دا نظر د شخصي پالیسۍ په توګه منلی دی. که غواړئ چې کار مو وشي، نو بوخت کس ته یې وسپارئ. زه په مهمو پروژو له اوزګارو خلکو سره کار نه کوم. له پخوانیو ترخو تجربو مې دا زده کړي چې اوزګار خلک ښه همکاران نه وي.

زه چې څومره تکړه او بریالي خلک پېژنم، ټول ډېر بوخت دي. له هغوی سره چې کومه پروژه پیل کړم، نو ښه پوهېږم چې په ډېره ښه بڼه به ترسره شي.

دا راته په لسګونو تجربو کې ثابته شوې ده چې د کار کېدو حساب په بوخت انسان کولای شم، خو زیاتره وخت مې چې له اوزګارو یا ډېر وخت لرونکو کسانو سره کار کړی، پښېمانه کړی یې یم.

مخ پر وده سوداګریز مدیریت دا پوښتنه کوي چې: (د حاصل زیاتولو لپاره څه کولای شو؟) همدا پوښتنه تاسې ولې له ځانه نه کوئ؟ که مو دا پوښتنه وکړه، ذهن به مو ډېرې نوې لارې چارې دروښیي.

د هرې کچې له سلګونو خلکو سره تر مرکو وروسته مې دا زده کړل: انسان چې هر څومره ستر وي، تاسې خبرې ته هم ډېر وربولي او څومره چې کوچنی وي، هومره ډېر به درته نصیحتونه کوي.

لوی خلک یې اوري.

واړه خلک غږېږي.

دې ته هم پام کوئ چې لوی رهبران، د ډېر نصیحت کولو پر ځای ډېر اوري. لوی انسان چې پرېکړه کوي، لومړی یې په اړه پوښتي چې: (تاسې څه فکر کوئ؟)، (څه مشوره لرئ؟)، (په کومو شرایطو کار کوئ؟)، (ستاسې څنګه خوښه ده؟)

له دې زاویې ورته وګورئ: رهبر د پرېکړې انساني ماشین دی. دا ماشین باید د تولید لپاره اومه مواد ولري. د ښې او نوښتګرې پرېکړې لپاره مواد د نورو مشورې او نظریات دي. خو دا به هم نه غواړئ چې نور خلک دې درته تیارې روغې حللارې درکړي. پوښتنه او اورېدل د دې لپاره نه دي. د نورو نظریات مو ذهن ته نوي فکرونه راوړي او ذهني نوښت مو زیاتوي.

څو ورځې مخکې مې د اجرائیوي مدیریت په یوه روزنه کې د کارکوونکي په توګه برخه واخیسته. سیمینار دولس ناستې و. یوه جالبه برخه پکې د وینا وه، د وینا برخه پنځلس دقیقې وه او اجرائیوي مدیران پکې پر دې غږېدل چې (په مدیریت کې مې یوه سخته موضوع څنګه حل کړه؟)

په نهمه ناسته کې باید د شیدو د یوه شرکت معاون غږېدلای وی، ده یو نوی کار وکړ. ده دا و نه ویل چې ستونزه یې څنګه حل کړه، بلکې ویې ویل: (هیله ده، له ماسره د مدیریت د یوې سختې موضوع په حل کې مرسته وکړئ.) خلکو ورته وویل چې ستونزه شریکه کړه. ده له ځان سره یو کس هم تالار ته راوستی و، چې د ټولو خلکو نظریات او وړاندیزونه ورسره یاداشت کړي.

له ناستې وروسته مې سړی ولید، د دې نوښت مبارکي مې ورته وویله، هغه راته وویل: (دې ډله کې په کار پوه خلک راټول شوي دي، ما ویل چې له نظریاتو یې ګټه واخلم، ځکه ما ویل ښایي په ناسته کې کوم یو داسې خبره وکړي چې زما د ستونزې په حل کې راسره مرسته وکړي.)

یادونه: دې مدیر لومړی خپله ستونزه مطرح کړه او بیا یې غوږ کېښود. په دې کار سره یې د پرېکړې لپاره خام مواد پیدا کړل. بله ګټه یې دا شوه چې ټولو مدیرانو له پروګرامه خوند واخیست، ځکه هغوی ته یې د بحث یو فرصت برابر کړ.

**دوام لري...**

# مارشال

حشمت نوري



مارشال د ټاپوګانو ټولګی په شمالي ارام سمندر کې په اقیانوسیه کې د کارولین د ټاپوګانو او د میکرونیزي د فدرالي دولت ختیځ لور ته، د هاوایي او نویزیلنډ په منځنیو برخو کې پروت دی. د نقشې له مخې د شمالي درجې لسم مدار او د لوېدیځې درجې ۱۷۰م نصف النهار د دغو ټاپوګانو له منځ څخه تېرېږي.

مارشال د ټاپوګانو تولګی ټول ټال ۹۷ کیلومتره مربع پراخوالی لري. دغه د ټاپوګانو ټولګی په وچه کې له بل هېواد سره ګډه پوله نه لري او په سمندر کې یې نږدې ګاونډیان دا دي:

شمال ته یې د ویک ټاپوګان، جنوب ته یې د کریباتي او ناورو ټاپوګان، ختیځ ته یې د پالمیرا ټاپو او لوېدیځ ته یې د میکرونیزي فدرالي دولت موقعیت لري.

مارشال د استوا کرښې ته د نږدوالي او د سمندر له اوبو سره د ګاونډیتوب له امله، توده او لنده هوا لري، چې ډېر اورښت پکې کېږي. د دغه هېواد دورښتونو په موسم کې د هوا لندبل سلنه له ۸۰ څخه پورته کېږي، که څه هم چې د مارشال په شمالي ټاپوګانو کې ورښت د جنوبي ټاپوګانو په پرتله لږ دی، خو بیا هم ډېر خلک د ماژوور او کواجالین په شمالي ټاپوګانو کې اوسېږي.

د مارشال ټاپوګان مارجنې جوړښت لري او د سمندر له سطحې څخه څومتره جګ پراته دي. په عمومي توګه د سمندر له سطحې څخه د مارشال تر ټولو ټیټه سیمه ارام سمندر صفر متره او ډېره جګه یوه یې نومه سیمه ده، چې لس متره لوړوالی لري. د دغو ټاپوګانو ځمکه له مرجاني چونې او سمندري ریګ څخه جوړه شوې ده.

د مارشال پلازمېنه د ماجوور ښار دی او ټول ټال ٦۰ زره نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۳۷۹ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد ۷۵ سلنه وګړي په ښار او ۲۵ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

د دغه هېواد ۵۵ سلنه وګړي د پروټسټانټ، ۲۵ سلنه د خدایي ټولنې، ۸ سلنه د رومن کاتولیک، څلور سلنه یې مسیحیان او پاتې نور یې د کوم مذهب پیروان نه دي.

د دغه هېواد رسمي ژبه مارشالي او لیکدود یې لاتیني دی. د اداري وېش له مخې پر ۳۳ ښاروالیو باندې وېشل شوی دی. اریکوب، اوجیلان، مجیت، کواجالین او نامو یې مشهور او پور نفوسه ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی. د مارشال دولت د امریکا له متحده ایالاتونو سره د خپلواکه اړیکو تړون لري، چې د ۱۹۸٦ ز کال د اکتوبر په ۲۱مه لاسلیک او نافذ شوی دی. په دغه تړون کې زیاتونې د ۲۰۰۴ ز کال په مې میاشت کې رسمي شوې. د دغه هېواد اوسنۍ ولسمشره هیلدا هاین ده چې د لومړي وزارت چارې هم پرمخ بیایي.

د مارشال ولسمشر د دغه هېواد د ولسي جرګې له خوا د خپلو غړو له منځ څخه، د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د دغه هېواد ولسي جرګه ۳۳ غړي لري، چې د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د مارشال حقوقي نظام پر هغو اصولو ولاړ دی، چې د تر قیمومیت لاندې سیمو لپاره جوړ شوی دی. د مارشال قضایي سیستم خپل عنعنوي عمومي د ښاروالیو او نور قوانین هم د همدغو اصولو له مخې جوړ کړي دي. ستره محکمه او عالي محمکه د دغه ټاپو تر ټولو لوړ قضایي ارګانونه دي. په مارشال کې د عنعنوي حقوقو یوه محکمه فعاله ده چې د کلتوري مواریثو د ساتنې لپاره کار کوي.

د مارشال په ټاپوګانو کې داسې منظمې سیاسي ډلې نشته چې رسمي دفترونه، تشکیلاتي جوړښت، خپرنیز ارګانونه او داسې نور لازم شیان ولري، خو داسې ډلګۍ ورو ورو د جوړېدلو په حال کې دي، چې د ځانګړو ګټو لپاره کار کوي، لکه د کابوا ګوند چې مارشالي نوم یې دی.

دغه هېواد د ۱۹۸٦ ز کال د اکتوبر په ۲۱مه له امریکا څخه خپلواکي واخیسته او هر کال د مې لومړۍ نېټه د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

د امریکا مرستې د دغه هېواد د ټاپوګانو د اقتصاد د ملا تیر بلل کېږي. دغه هېواد له ۱۹۸٦ تر ۲۰۰۱ ز کال پورې له امریکا څخه یو میلیارد ډالره مرسته ترلاسه کړې ده. ختکي او کچالو یې مهم محصولات دي. مارشال واړه واړه کرنیزه فارمونه لري چې ډوډۍ یې د یادولو وړ دي. د مارشال څو کوچنۍ فابریکې د کبانو پروسس او د لاسي شیانو په جوړولو بوختې دي. په دې وروستیو کې مارشال ته د سیلانیانو ورتګ هم زیات شوی دی.

دغه راز دغه هېواد د ګوتو په شمېر طبیعي زېرمې لري او واردات یې د صادراتو په پرتله دوه برابره ډېر دي. د هغه تړون له مخې چې د مارشال ټاپوګانو له امریکا سره د خپلواکو اړیکو په اړه لاسلیک کړی، امریکا هر کال له دغه وړوکي هېواد سره ۵۰ میلیونه ډالره مرسته کوي. دواړو هېوادونو په ۲۰۰۴ ز کال کې هوکړه وکړه چې تر ۲۰۲۳ ز کال پورې به له مارشال سره خپلو مالي مرستو ته دوام ورکوي.

د دغه هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو کچه ۱۴۰ میلیون ډالرو او د سړي سر کلني عاید کچه یې ۲۹۰۰ ډالرو ته رسېږي. کاري ځواک یې ۱۵ زره تنه اټکل شوی، خو د وزګارتیا کچه یې بیا ۲۰ سلنه ده.

لرګي، د خوراکي توکو پروسس، ملغلرې، له پوستکو څخه د ښکلاییزو شیانو جوړول او نور لاسي کارونه د دغه هېواد په صنعت کې عمده او رغنده رول لوبوي. د دغه هېواد ۱۵ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده او کرنه یې ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات جوړوي. لرګي، کچالو، ختکي، مېوې، سابه، غوښه، کبان او لبنیات د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي. دغه راز د مارشال د صادراتو ټوله بیه ۲۵ میلیونه ډالرو او د وارداتو ټوله بیه یې ۸۵ میلیونه ډالرو ته رسېږي. امریکا، جاپان، اسټرالیا، نویزیلنډ، چین او سنګاپور د دغه هېواد لوی سوداګریز شریکان بلل کېږي.

مارشال د اورګاډي پټلۍ نه لري. دغه راز دا هېواد ۱۵ سوه سوداګریزې بېړۍ او ۲۰ هوایي ډګرونه لري. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰٦۹۲ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې ایم ایچ دی، چې ۱۵ سوه تنه یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

مارشال د سړي سرکلني عاید له پلوه د اسټرالیا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه دی او اټکل کېږي چې دا رقم به نور هم زیات شي.

په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۷ سلنه خلک نارینه او ښځینه دواړه په لیک او لوست پوهېږي. زده کړه په دغه هېواد کې له ٦ تر ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.

د مارشال د اوسنیو ټاپوګانو له ډلې ځینې یې په ۱٦ مه پېړۍ کې د اسپانویانو له خوا کشف شول او د ۱۹ مې پېړۍ تر وروستیو کلونو پورې د همدغه هېواد له خوا اداره کېدل. له ۱۸۵۰ ز کال را وروسته د المان سوداګریزو شرکتونو د مارشال په ټاپوګانو کې خپله اغېزه پراخه کړه. په ۱۸۸٦ ز کال کې دیارلسم پاپ لیوي د مارشال پر ټاپوګانو باندې د اسپانیا واکمنې په داسې حال کې په رسمیت وپېژنده، چې الماني سوداګرو ته یې هم د فعالیت اجازه ورکوله. دا ټاپوګان په ۱۹۱۴ ز کال کې جاپاني پوځونو ونیول.

د ۱۹۴۴ ز کال په فبروري کې د امریکایي او جاپاني پوځونو ترمنځ د مارشال د ټاپوګانو پرسر درنه سمندري جګړه پېښه شوه. په دې جګړه کې جاپاني پوځونو ماتې وخوړه او ډېر جاپاني مهاجر د مارشال له ټاپوګانو څخه خپل هېواد ته ګډه شول. د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې ملګرو ملتونو په ۱۹۴۷ ز کال کې د مارشال د ټاپوګانو د کارولین او شمالي ماریانا د ټاپوګانو قیمومیت امریکا ته وسپاره. ملګرو ملتونو هغه وخت دا سیمه د ارام سمندر د ټاپوګانو قیمومیتي سیمه بلله، چې تر ۱۹۵۱ ز کال پورې امریکایي پوځیانو اداره کوله او بیا یې اداره ملکیانو ته وسپارل شوه.

له ۱۹٦۵ ز کال وروسته د مارشال د ټاپوګانو په اوسېدونکو کې د خپلواکۍ غوښتنې روحیه پیاوړې شوه. په ۱۹۷۷ ز کال کې د امریکا ولسمشر جیمي کارټر وویل، چې غواړي په ۱۹۸۱ ز کال کې پر مارشال باندې د امریکا قیمومیت پای ته ورسوي. په ۱۹۷۹ ز کال کې امریکایانو د کواجالین بیکیني ماریانا او کارولین د ټاپوګانو نیمه کورواکه دولت جوړ کړ، امریکا چې په ۱۹٦۱ ز کال کې په کواجالین کې د بین القاروي توغوندیو د ازمایښتونو او توغولو اډه جوړه کړې وه، غوښتل چې دغه سیمه تر خپلې ولکې لاندې وساتي او په ۱۹۸۰ ز کال کې یې په کواجالین کې د ایم ایکس د توغندیو ازمایښتي چاودنې پیل کړې او د دغه کار لپاره یې د ټاپو ټول اوسېدونکي وایستل او دغه سیمې ته یې د غیر پوځي پرسونل په ورتلو بندیز ولګاوه.

په ۱۹۸٦ ز کال کې امریکایي او مارشالي استازو داسې یو تړون لاسلیک کړ، چې دا ټاپوګان بشپړ کورواکه شول، خو امریکا دا ومنله چې د بهرني تېري په وخت کې به تر ۱۵ کلونو پورې د مارشال دفاع کوي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د مارشال نوم نشته، نو داسې څرګندېږي چې دا دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري. له افغانستانه تر مارشال پورې د هوا له لارې فاصله ۱۰۷۸۳ کیلومترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او ماجورو ښارونو تر منځ د وخت توپیر هم اووه نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٦٥ |
| € | ۸٤,۷٠ |
| Rp. | ۵۳۵ |
| ₹ | ۱٠۵۵ |
| ¥ | ۱٠,۹٠ |
| £ | ۸٤,۷٠ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 19:15 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د کوالالامپور تر ټولو په زړه پورې او جذاب ځایونه

حمیدالله حمیدي

کوالالامپور د مالیزیا پلازمېنه ده چې ډېر قومونه لکه تامیلان، چینایان، مالي او بومیان پکې ژوند کوي. دغه ښار د مالیزیا تر ټولو ګڼ نفوسه او لوی ښار بلل کېږي، چې ۲۵٠ کیلومتره مربع پراخوالی لري. کوالالامپور د سیل او چکر لپاره پراخ او ښکلي ځایونه لري. په دې لیکنه کې به یې ځینې مشهور ځایونه درته معرفي کړو:



**۱- د پټروناس دوه لوړ او غبرګ برجونه (Petronas Towers)**

د پټروناس دوه لوړ او غبرګ برجونه د دغه ښار تر ټولو مشهورې ودانۍ او سیمې دي، چې اوس د مالیزیا د سمبول په توګه شمېرل کېږي. سیلانیان د دې لپاره چې د دواړو برجونو تر منځ د پله پر سر چکر ووهي او عکسونه واخلي، په اوږدو کتارونو کې درېږي او نوبت نیسي. که د برج لوړو برخو ته د ورتلو توان لری، بیا نو کولی شی چې د ټول ښار دیدن په څو شېبو کې وکړئ.

**۲- ملي موزیم (National Museum)**

د مالیزیا ملي موزیم، چې د کوالالامپور په ښار کې جوړ شوی دی، د دغه ښار بله هغه ودانۍ ده، چې په لیدو ارزي. په زړه پورې خو دا ده چې ډېر سیلانیان یې د موزیم پر توکو سر ښېره، د دې ودانۍ لیدو ته هم ورځي. دغه ودانۍ د مالیزیا په پخواني او سنتي ډول جوړه شوې ده. په دغه موزیم کې د قران د زده کړې، د مالیزیا د پخوانیو دودونو او رواجونو په اړه هغه وسایل او توکي ننداري ته ایښودل شوي دي، چې په پخوا زمانه کې به ترې ګټه اخیستل کېده. دغه راز، موزیم نور په سلګونو داسې شیان هم لري، چې هر کال ترې ډېر خلک لیدنه کوي او د دغه هېواد لپاره د عوایدو یوه ښه سرچینه ده.

**۳- د نګارا مسجد**

د نګارا مسجد د مالیزیا په کوالالامپور ښار کې تر ټولو مشهور مسجد دی. دغه مسجد پر یو وخت د پنځو زرو لمونځ کوونکو ظرفیت لري او په ۱۳ هکتاره باغ کې جوړ شوی دی. د نګارا مسجد په ۱۹٦۵ ز کال کې جوړ شوی. د مسجد ګنبده د نړۍ د ټولو مسجدونو له ګنبدو سره توپیر لري؛ ځکه دغه ګنبد یوه اتلس برخیز ستوري ته ورته ده، چې د مالیزیا د ۱۳ ایالتونو او د اسلام د پنځو بناوو ښکارندویي کوي. د لوی ګنبد په شاوخوا کې ۴۸ نورې کوچنۍ ګنبدې هم شته. پر لمونځ کوونکو سر ببره، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ډېر خلک د دغه مسجد لیدو ته ورځي.

**۴- د کوالالامپور برج (Kuala Lumpur Tower)**

د کوالالامپور برج د کوالالامپور د منارې په نوم هم پېژندل کېږي. دغه منار ۳۳۵ متره لوړوالی لري او په پاسنۍ برخه کې د درېدو یو ځانګړی ځای هم لري، چې کولی شي په پیکه ډول د ټول ښار ننداره هم ترې وکړي. د یادولو ده چې د روژې مبارکې په میاشت کې د روژې د پیل او پای د معلومولو لپاره میاشت له همدې برج څخه ګوري.

**۵- د کوالالامپور جامع مسجد**

د کوالالامپور جامع مسجد په مالیزیا کې تر ټولو پخوانی مسجد دی، چې د جوړولو چارې یې په ۱۹٠۷ ز کال کې پیل او په ۱۹٠۹ ز کال کې پای ته ورسېدې. دغه مسجد د سلطان (سلانګور) پر لاس پرانیستل شوی دی. دا هغه ځای دی چې د مالیزیا ډېری تاریخي پېښې پکې را منځته شوې دي. دغه مسجد درې ګنبدې لري، چې لویه هغه یې ۲۱ متره او ۳٠ سانتۍ لوړوالی لري. دغه ګنبده په ۱۹۹٠ ز کال کې ونړېده، چې بیا بېرته له سره ورغول شوه. د مسجد په څنډه کې دوې لویې سرې او سپینې منارې هم تر سترګو کېږي، چې لوړوالی یې ۲٦ متره او ۸٠ سانتي ته رسېږي. پر عبادت ځای سربېره، مسجد نور ملحقات هم لري. شاوخوا ښکلی پارک، شنې ونې او د خلکو ګڼه ګوڼه هغه څه دي، چې د کوالالامپور جامع مسجد یې لا ښایسته کړی دی. په کلني ډول ډېر خلک له دغه مسجده لیدنه کوي.

**٦- د مالیزیا د سکو موزیم (Maybank Numismatic Museum)**

د مالیزیا د سکو موزیم د دغه هېواد په مشهورو بانکو پورې تړلی موزیم دی. د وخت د بېلابېلو بانک نوټونو نمونې او بېلګې پکې ساتل کېږي. په دغه موزیم کې پر ډول ډول سکو او بانک نوټونو سربېره، اسکناس سکې او فلزي مجسمې هم ساتل کېږي. که له دغه موزیم څخه لیدنه وکړی، په ختیځه اسیا او دغه راز په مالیزیا کې د پیسو له تاریخچې به ښه خبر شی.

**۷- د کې اېل سي سي پارک (KLCC Park)**

وایي، که څوک کوالالامپور ته ولاړ شي او له کې اېل سي سي پارک څخه لیدنه ونه کړي، نو پوه شئ، چې مالیزیا ته یې هېڅ سفر نه دی کړی. دغه پارک له پټرناس برجونو لاندې موقعیت لري او د مالیزیا په جذابو ځایونو کې راځي. دغه پارک په ۲٠ هکتاره ځمکه کې جوړ شوی دی، چې د پارک په منځ کې د ورزش او پلې تګ لپاره ځانګړې ځایونه لري.

دغه راز ناسي کاندار چې په محلي ژبه ورته ګډې وریجې وایي، د مالیزیا تر ټولو ښه او مشهور خواړه بلل کېږي.

# محقق: ولسمشر دا صلاحیت نه لري چې له دندې مې لرې کړي

د اجرایه ریاست ګوښه شوي دویم مرستیال محمد محقق ویلي، چې ولسمشر غني دا صلاحیت نه لري چې له دندې یې لرې کړي او دی به د اجرایه ریاست د دویم مرستیال په توګه خپل کار ته دوام ورکوي.

نوموړی دغه څرګندونې داسې مهال کوي، چې ولسمشر غني د سلواغې په څلورمه د یوه ځانګړي فرمان له مخې، محمد محقق د ملي یووالي حکومت د اجرایه ریاست د دویم مرستیال له څوکۍ لرې کړ، خو محقق ازادي راډیو ته ویلي چې ولسمشر دا کار له اجرایه ریاست سره له همغږۍ پرته کړی او هغه د دې صلاحیت نه لري چې له دندې



یې ګوښه کړي.

بلخوا اجرایه ریاست هم په یوه بیان کې د محمد محقق ګوښه کېدل د ملي ګټو خلاف کار بللی دی او ویلي یې دي چې د ولسمشر دغه کار د ملي یووالي حکومت له هوکړې سره په ټکر کې دی، خو د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري ورمه ورځ په خبري کنفرانس کې ویلي، چې د محقق ټول دولتي امتیازات قطعه شوي او هغه کاري صلاحیت نه لري.

د یادونې ده چې محمد محقق په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د حنیف اتمر په مشرۍ، د سولې او اعتدال په نوم د ټاکنیز ټیم دویم مرستیال دی.

# ټاکنو کمېسیون: د ټاکنو د قانون تعدیل راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې اغېزمنې کړې دي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ویاند مرستیال عبدالعزیز ابراهیمي ویلي، د ټاکنو د قانون تعدیل راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې اغېزمنې کړې او دغه کمېسیون به اوس په خپل مهالوېش او عملیاتي پروګرامونو له سره کار وکړي.

ابراهیمي ویلي: «کوم تعدیلات چې د انتخاباتو په قانون کې راغلي، له مخې یې باید زموږ په عملیاتي پروګرامونو کې هم بدلون راشي، ځکه زموږ دغه پروګرامونه د پخواني قانون له مخې وو، کاري ټیم جوړ شوی او هڅې روانې دي چې عملیاتي پلان او د ولسمشرۍ د انتخاباتو مهالوېش د تعدیل شوي قانون سره سم جوړ شي او عملي کارونه ترتیب کړي.»

نوموړي ویلي، تعدیل شوي قانون په ۲۲ مواردو کې د دوی پر عملیاتي پروګرامونو اغېز کړی، خو دا چې له دې امله به د ټاکنو په نېټه کې کوم بدلون راشي که نه، څه نه وایي.




دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ولسمشر غني د سلواغې په ۲۳مه، په یوه فرمان سره د ټاکنو د قانون نږدې شل مادې تعدیل کړې او پر بنسټ یې د ټاکنیزو کمېسیونونو کمېشنران عزل او څارنوالۍ ته معرفي کړل.

ټاکل شوې چې ولسمشریزې ټاکنې د را روان لمریز کال د چنګاښ په ۲۹مه وشي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ورته یوازې پنځه میاشتې وخت لري.

دغه کمېسیون له ولسمشرۍ ماڼۍ هم غوښتي چې نوي کمېشنران ورته ژر تر ژره معرفي کړي. ابراهیمي ویلي، د کمېشنرانو او د دارالانشا رییس نشتون هم د دوی پر کارونو اغېز کړی دی.

خو ولسمشرۍ ماڼۍ بیا ویلي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمېشنرانو بدلون، د ولسمشرۍ ټاکنو پر مهالوېش کوم اغېز نه لري.

ولسمشر غني چې د یکشنبې په ورځ یې د چابهار بندر په ناسته کې خبرې کولې، ویلي چې دا بهیر به په خپل ټاکلي وخت سره ترسره شي.

په ورته وخت کې پر ټاکنو څارونکې بنسټونه هم وایي، چې د ټاکنو د قانون تعدیل د دغه کمېسیون پر عملیاتي پروګرامونو او مهالوېش کوم اغېز نه لري.

د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ ویاندې مروې امیني ویلي، د ټاکنو د قانون تعدیل یوازې د کمېشنرانو د لرې کېدو پر مسئلې اغېز کړی او کمېسیون باید په داشان څرګندونو سره ځانته له کاره د تېښتې لار ونه لټوي.

هغې ویلي: «هېڅ بهانه نشته، ځکه د دواړو کمېسیونونو دارالانشاوې اداري چارې مخته وړي، کوم تعدیلات چې په قانون کې راغلي، د کمېسیون په عملیاتي پروګرامونو او د انتخاباتو پر مهالوېش هېڅ اغېز نه لري. کمېسیون په دې بهانو سره ځانته د تېښتې لار لټوي، بل هېڅ مقصد نشته.»

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ٠۲٠۲۵۱۲٦۲٦
٠۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب شپږمه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۵مه | دویم کال | ۳٤۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ۱۳ | ۱٦ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۳ |
| -۱۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ٤ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۱ | لمر ختل ۰٦:٤۳ | ماسپښین ۱۲:۲٤ | مازیگر ۰٤:۲۵ | ماښام ۰٦:۰٤ | ماخوستن ۰۷:۲۹

## واکنش شهروندان به چلنج صالح:
# جرأت کن با ما به اطراف کابل برو



امرالله صالح، معاون نخست تیم انتخاباتی «دولت ساز» در تویترش از شهروندان کشور خواسته است تا ثابت بسازد که نیم افغانستان به دست گروه‌های هراس‌افگن نیست.

وی گفته است که حاضر است با موتر، هواپیما، بایسکیل، اسپ و یا پیاده به بخش‌های کشور که گفته می‌شود زیر ادارهٔ طالبان است، سفر کند.

وی افزوده است: «کسانی که ادعا می‌کنند که گروه‌های تروریستی نزدیک به نیمی از افغانستان را اداره می‌کنند، چلنج می‌دهم که به دفترم در کابل بیایند تا یکجا با آنان برای گردش در کشور با موتر، با هواپیما، با بایسکل، با اسپ و یا پیاده برویم. این خبرهای دروغ و نادرست بیشتر از سوی دست نشانده‌گان، جاسوسان و احمقان پخش می‌شوند».

این نوشتهٔ آقای صالح با واکنش‌هایی روبه‌رو شده‌است و شماری از شهروندان کشور وی را چلنج می‌دهند که به دوردست ها نه بل اگر جرأت دارد به ولسوالی‌های کابل برود. احمد نوید، یکی از کاربران تویتر در پاسخ به این نوشتهٔ آقای صالح نوشته‌است: «بیایید یکجا از کابل به مزار یا کندز برویم. شما انتخاب کنید و به یاد داشته باشید که یک مرد به وعده‌اش وفا می‌کند».

احمد، باشندهٔ کابل نیز می‌گوید: «بیایید همرای من از کابل تا نیمروز بروید و ببینید که در این راه چه وضعیتی است».

خالد، باشندهٔ دیگر کابل نیز می‌افزاید: «هرکس که چلنج می‌دهد که من به فلان جای می‌روم، تیل موتر را از خودم می‌اندازم بیاید همرای من برود، بت خاک می‌روند، چهار آسیاب می‌روند و یا نزدیک تا هوتخیل برود شب هوتخیل می رویم».

این در حالی است که پیش از این، یک گزارش سیگار نشر شد که نشان می‌داد که حاکمیت دولت نسبت به هژده سال اخیر کاهش یافته‌است و بخش‌های ناامن کشور به گونهٔ بی‌پیشینه افزایش یافته‌است.

## نړۍ



# د شمالي کوریا مشر له خپل امریکايي سیال سره د کتني لپاره ویتنام ته روان شوی دی

۳

## په وینزویلا کې د وروستیو نښتو له کبله سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



د وینزویلا امنیتي ځواکونو د هغو لاریون کوونکو د خورولو لپاره له اوښکي بهوونکي گاز څخه کار واخیست، چې د برازیل او کولمبیا پولو ته نږدې د بشري مرستو د ترلاسه کولو هڅه یې کوله.

پر لاریون کوونکو د امنیتي ځواکونو د ځینوکو اقداماتو په نتیجه کې، دوه کسان وژل شوي او سلگونه نور ټپیان شوي دي.

د راپورونو له مخې د پولیسو او لاریون کوونکو ترمنځ دغه نښتې وروسته له هغې رامنځته شوې، چې لاریون کوونکو هڅه کوله څو هغو بشري مرستو ته ځانونه ورسوي، چې د لوېدیځ له لوري د کولمبیا او برازیل پولو ته نږدې راوړل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د دغه هېواد د اپوزیسیون مشر خوان گوایدو پر پوځیانو غږ کړی، چې د ولسمشر نېکولاس مادورو د واکمنۍ د پرځولو لپاره له ده سره یوځای شي.

د چارواکو په خبره، په ځینو راپورونو کې ویل شوي چې د ټیټې کچې ځینو سرتېرو دا غوښتنه منلې، خپل مرکزونه یې پرېښې او بغاوت یې کړی، خو جگپوړي پوځي افسران لا هم سوسیالېست مادورو ته وفادار دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په وینزویلا کې تر بل هر وخت وضعیت ترینگلی شوی دی. دغه کړکیچ هغه وخت زور واخیست چې د دغه هېواد د اپوزیسیون مشر خوان گوایدو ځان د وینزویلا د ولسمشر په توگه اعلان کړ. د نوموړي دغه اعلان د امریکا، فرانسې، برېټانیا او ځینو لوېدیځو هېوادونو له لوري په رسمیت هم پېژندلی شوی دی. خو بل پلو روسیې، چین او ترکیې بیا له ولسمشر مادورو څخه خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

## ایران د لومړي ځل لپاره له اوبتل څخه کروز ډوله میزایل توغولی دی



ایران هورموز تنگي ته نږدې د کلنیو پوځي تمرینونو پر مهال، د لومړي ځل لپاره له یوه اوبتل څخه کروز ډوله میزایل توغولی دی.

د ایران دولتي خبري اژانس ایرنا راپور ورکړی، چې دغه توغوندی له غدیر ډوله اوبتل څخه په بریالیتوب سره توغول شوی دی.

د ایرنا په راپور کې هغه واټن نه دی ښودل شوی، چې دا توغوندی یې په نښه کولای شي.

راپور زیاتوي چې طارق او د ایران ساخت فاتح ډوله اوبتلونه هم د کروز میزایلو د توغولو وړتیا لري.


د ایران له لوري د دغه توغندي ازموینه په داسې حال کې کېږي چې د واشنگټن او تهران ترمنځ اړیکې په دې وروستیو کې د بل هر وخت په پرتله ترینگلې شوې دي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له ایران سره د امریکا او لوېدیځو هېوادونو له اټومي هوکړې ځکه ووت، چې د ده په خبره، د دغه هېواد د بالستیک توغوندیو د پروگرام د محدودولو غوښتنه نه وه پکې شوې.

هورموز تنگی د خلیج په خوله کې لوېدیځ ته د تېلو د لېږد مهمه سمندري لاره ده، چې ایران له دې مخکې گواښ هم کړی و، که متحده ایالتونه پر ایران خپلو بندیزونو ته دوام ورکړي، دوی به پرې د تېلو دغه مهمه لاره وتړي.


## ژوند

## سامسونگ خپل نوي ځیرک ساعتونه معرفي کړل



سامسونگ شرکت د ځینو ځانگړو مراسمو په ترځ کې، د ۲۰۱۹ ز کال نوی تولید، چې ځیرک گلکسي اکټیو ساعتونه او د روغتیا معلوملو لاس بندونه دي، معرفي کړل. دغه مراسم په اصل کې د گلکسي لس موبایلونو د معرفي لپاره ځانگړي شوي وو، چې ترڅنگ یې خپل دغه نوي تولیدات، چې کېدای شي سږ کال ډېر زیات پېرودونکي ولري، هم خپلو مینوالو ته وړاندې کړل. گلکسي اکټیو ځیرک ساعتونه چې ډېر چټک او په لوړه ټکنالوژۍ سمبال دي، تر ډېره به د ورزشي فعالیتونو لپاره تري کار واخیستل شي. د دغو ځیرکو ساعتونو یوه ځانگړنه دا هم ده، چې په خورا دقت د انسان د وینې فشار او د زړه ضربان معلوملی او حسابولی شي. دغه ځیرک ساعتونه لږ تر لږه څلور گېگا بایټه داخلي حافظه او د دې تر څنگ پر بلوتوت، وای فای او جي پي ایس هم سمبال دي. له دې ټولو سره سره، دغه ځیرک ساعتونه ۱.۱ انچه مخ پانه، ۳٦۰ په ۳٦۰ پیکسله کې رزولوشن او ۲۳۰ میلي امپیره بېټرۍ لري. سامسونگ شرکت د خپل دغه تولید لپاره ۲۰۰ امریکایي ډالره بیه ټاکلې ده، چې د لومړي ځل لپاره به یې پلور د مارچ په میاشت کې د امریکا په متحده ایالتونو کې پیل شي.

## د سترگو لپاره خورا گټور خواړه!



کله چې د هغو خوړو په اړه خبرې کوو چې د سترگو لپاره گټور دي، نو لومړی مو فکر گازرو ته ولاړ شي، خو پام مو وي چې یوازې د ویټامین اې دغه غني سرچینه د سترگو لپاره گټوره نه ده. په ټوله کې د سترگو لپاره د ویټامین (اې) دنده د شپې له خوا د سترگو د لید زیاتوالی دی. د روغتیا مشهوره مجله لیکي چې ویټامین (اې) له دوو لارو ترلاسه کولی شی، لومړی سرچینه یې د هغو حیواناتو ینه (جگر) دی چې غوښه یې حلاله وي او دویم په هغو شنو بوټو کې چې کاروتن ولري؛ ځکه همدا کاروتن د ویټامین (اې) د جوړېدو لامل گرځي. کاروتن لرونکي بوټي ډېری یې ژېړ، نارنجي او ډېر کم یې شین رنگ لري. لوټین او زیکسانتین هم د سترگو د سلامتیا لپاره گټور تمامېږي، چې په زیاته کچه په پاڼه لرونکو سبزیو لکه (پالک) کې پیدا کېږي. دغه راز دا دوې مادې په کمه کچه په هغو مېوو او سبزیو کې هم تر سترگو کېږي، چې شین ته مایل رنگ ولري. ویټامین (سي) چې تر ټولو ښه انټي اکسیډان دی، د دې شبکې لپاره گټور ثابت شوی چې د سترگو له سلامتیا سره مرسته کوي. هغه کسان چې سگرېټ او یا الکول کاروي، په بدن کې یې د ویټامین سي کچه ورځ تر بلې کمېږي چې په پایله کې یې د سترگو شاوخوا گونځې پیدا کوي.